دنهې ورځ, 20 مارچ 2012

# تجزیه کار: د پاکستان شرائط، امریکې سره تاؤتریخوالې ښائي

له اړخه(لیکونکي) ډیوه ریډیو | واشنګټن


عکس Reuters

امریکې سره تعلقاتو د پاره نوي شرائط ټاکلو په موضوع د پاکستان پارلیمان بحث شورو کړې دي، او د پاکستان د قامي سلامیته کمیټۍ وئیلي تیرکال په مومندو کې د پاکستاني پوځیانو د وژل کیدو په پیښه دې امریکا بخښنه ووغواړي.

د پاکستان پارلیمان د دواړو ایوانونو، قامي اسمبلي او سینیټ، مشترکه غونډه د نهې په ورځ دسینیټ دچئیرمین په مشرۍ شورو شوه او د قامي سلامتیه پارلیماني کمیټۍ امریکا او نیټو سره په ګډه دکار کولو په اړه نوي شرطونه او وړاندیزوه پارلیمان ته پیش کړل.

په وړاندیزونو کې دا غوښتنه هم شوې ده چې په سلاله چیک پوسټ ترسره شوي برید دې امریکا غیر مشروط بخښنه ووغواړي. په دغه برید کې ۲۴ پاکستاني عسکر وژل شوې وو.

نیټو او امریکائي چارواکو وئیلې دغه پیښه د ناقص رابطو په نتیجه کې رامنځته شوې ده.

تجزیه کار وائي پاکستان د طرفه امریکي ته  د تعلقاتو د پاره نوي شرائط مقررول د دواړو  هیوادونو په منځ کې تاؤتریخوالی ښائي.

د وائس اف امریکا ډیوه ریډیو خبریال افتخار حسین د پاکستان او امریکې په تعلقاتو کې دې ورستي پرمختګ په حقله د تجزیه کارانو سره خبرې اترې کړې دي دغه رپورټ تاسو دلته اوریدې شی:

**دا مضمون ولټوئ**
http://w w w .voanew s.com/deew a/new s/Analysis-143513506.html